# د واده اوله شپه باید څنګه وي؟

رالیږونکی: محمد امین

بسم الله الرحمن الرحیم

کله چي ښځه د میړه و کور او خوني ته راوستل سوه نو د هرمسلمان په ذهن کي باید دا خبره وي چي اوس نو کوم آداب او اصول پر ځای کړي؟ چي هغه په لاندي ډول دي:

۱ -لومړی به اودس تازه کړي بیا به دوه رکعته صلوة الحاجت (د حاجت لمونځ) وکړي بیا به د خیر، برکت او په خپلو منځو کي د توافق، یووالي ، پاکي میني او همدارنګه د صالح اولاد د حصول لپاره دعا وکړي.

۲ -میړه او میرمن دواړه باید د واده تر شپې د مخه ځانونه دومره ستړي نه کړي چي د واده په شپه ستومانه او په تکلیف وي، یوه ورځ تر مخه باید آرام وکړي چي د واده په شپه دواړه خوشحاله، بشاش او په بدن کي یې تازه ګي وي.

۳ -دغه د طبیعت خوشحالي که په اسبابو سره تر لاسه کیږي انتظام دې وکړي مثلا: میوې یا داسي نور د خوراک شیان، خوشبویي او د خوني د زینت سامان تر خپله وسه ښه کار دی مګر بعضي کسان په دې کي ډیر تیری او تجاوز کوي او له حده څخه زیاتي پیسې په دغو زیب و زینت خرڅوي دا ناروا کار ، اسراف او د شیطان عمل دی په هر کار کي درمیانه والي کول بهتر دی.

۴ -که مهر معجل (تلواري) رواج نه وو نو یو شی دي د مهر څخه علاوه چي ددې د طبیعت رعایت پکښي موجود وي هدیه (سوغات) ورکړي، نو که مهر یې هم په ځنډ سره وي او دغه سوغات هم ور نه کړي نو ددې څخه فایده اخیستل د مردانګی، غیرت او د شرافت خلاف کار دی.

Download from:aghalibrary.cm

۵ -په اول ملاقات کي دي السلام عليکم ورحمة الله و برکاته ( پر تاسو باندي دي د الله تعالی سلامتي او رحمتونه وي) وايي بيا به د ښځي پر تندي او وريشتانو باندي لاس ونيسي او دا دعا به ووايي:

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهَا ، وَخَيْرِ مَا جُبِلَتْ عَلَيْهِ ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا ، وَشَرِّ مَا جُبِلَتْ عَلَيْهِ) .رواه ابن ماجه(

ژباړه: اې الله جل جلاله! زه ستا څخه ددې خير و برکت او ددې د پيدايشي خصلت خير و برکت چي تا پر هغې باندي پيدا کړي دي طلب ګار يم او ددې د شر څخه او ددې د پيدايشي خصلت د شر څخه پناه غواړم. (حصن حصين:۱۶۴ مخ)

همدارنګه د سلف صالحينو او بزرګانو څخه هم دغه عمل ښکاره سوی دی، چي په مناسب وخت کي خپلي ميرمني ته چي ډيره په سينګار او زينت باندي مزينه سوې وي د دنيا فاني والي ، د مال بي ثباتي او داسي نور د ښه ژوند ارزښتونه بيان کړي چي مخه يي د دين و طرف ته سي او بيا په کرار کرار خپل تعلق او د محبت خبري ورسره کوي.

ددې خبري به زيات خيال کوي چي خاوند او ميرمن د واده تر مخه بالکل پردي وه په منځ کي يي هيڅ قسم تعلق نه وو اوس چي د نکاح په ذريعه تعلق پيدا سو نو ظاهره خبره ده چي په يو وار الفت نه سي پيدا کيدلای نو ځکه په جماع کولو کي به تلوار نه کوي بلکي شپه او دوې به فقط انسيت او محبت او د خوش طبعي خبري وي بيا به يي کرار کرار و خپل طرف ته مايله کړي که يي په جماع کي تلوار وکړ نو د لاندي څو نقصاناتو خطرسته:

۱ -د کوروالا په ذهن کي دا خبره ځای نيسي چي د نکاح مقصود صرف شهوت پوره کول دي او بس.

۲ -ښکاره خبره ده چي ښځه فطرتا با حيا وي هغه داسي ژر د وطي لپاره نه سي اماده کيدلای او که اماده کيده نو يي هم ژر په خواهش کي زياتوب نه راځي ځکه نو نارينه به ژر فارغه سي او ددې خواهش به ناتمامه پاته سي او لذت به محسوس نه کړي.

۳ -په اول واري د وطي کي د بکارت پرده زایلیږي چي تکلیف ورکوي او په ښځه کي خواهش نه وي، نو ښځي ته ددې پردې زایلیدو تکلیف زیات وي، او ددې په وجه میړه ته هم په زړه کي ددغه عمل په وجه کراهت او بد خوندې پیښوي.

د ښځي په نژدې والي کي یوه ضروري خبره په ذهن کي ونیسي، هغه دا چي تر نکاح وروسته یو نوی حالت او نوی ژوند د انسان و مخته راځي او په هغه کي یوه عجبه او زړه راکښونکي حالت د انسان ومخته راځي په داسي موقع کي ځان کنټرولول بې حده ضروري دي، خپل ټول عشقي طبیعت به نه ظاهروي که دا کار وکړي دا ښځه خبره دربادي مني او خپلي غوښتني درباندي تسلیموي، او نه به ښځي ته د مینځي یا خادمي په نظر ګورې چي بده رویه او بد اخلاقي اختیار کړي، ستا به دا خیال وي چي زه یي لاندي کوم او یا زه خپل هیبت پر اچوم حال دا چي په داسي زیاتو سختیو سره به د ښځي په زړه کي د خاوند پر خلاف نفرت او د حقارت جذبات راپورته سي چي د لوی نقصان سبب ګرځي.

ښځه فطرتا د سړي محبوبه وي او ستا په ټېو کارو کي مددګاره وي نو ځکه د محبت او الفت اظهار به ورسره کوې سره ددې چي ستا عزت او وقار هم پر ځای وي په دغسي تدبیر باندي د دواړو په منځ کي خوشحالي پیدا کیږي او ستا قوام او حاکم والي به هم باقي وي.